دریم راسه عنایت کړه　　بزم تود د محبت کړه

سره ملو څخه د ک جام کړه　　د یارانو ی انجام کړه

چه سوری بزم یمی تود سی　　د رنگالو غوږ و سرود سی

د جهان ویره غم هیر کا　　یو دم ښه په عشرت تیر کا

په په مخ کی موبلیته دی　　لجهان سبا یون دی

دز

ketabton.com - The Digital Library



ذکرد الله تعالی پیرحم لو مرد دوست محمد کاکړ علیه الرحمه      د بابر خان زوی و چه د
کاکړ بابا د زیارت د پاره پیکال سنه ۹۱۲ هجری ولاړ هرات ته او بیا چه راغی نو د ب ته
پکال سنه ۹۲۹ هجری ی یو کتاب پښتو نظم کړ چه نوم ی دی غرغښت نامه د اکتاب
چه ما ولیدی شیرین بیتونه په مثنوی لری او د غرغښت بابا قدس الله سره الکریم
حکایات دی او لرشتینو خلقوی روایات راټیټ کړی دی دغه کتاب زما پلار
په توره کښی میندلی و او زه هم په کرهول کښی موکو چینوالی په سبق لوست
دوست محمد علیه الرحمه چخیل کتاب کښلی دی چه زما پلار بابر خان هم یو کتاب مشعر
کښلی وچه نوم ی و تذکرهٔ غرغښت هغه وقت چه بابر خان وفات سو او
زه پیر کور نه وم هو هغه کتاب ورک سوی وا و چا ضایع کړی زه چه راغلم
د خپل پلار په ماتم سهی و میر جن نسوم لکه چه کتاب ورک و ما خو د هغه کتاب
خبری اوریدلی او په وار و وار و ویلی وی او هم می یو څه له هغو تحفه پیاد وی
نو ما پر خدای توکل وکا او هغه قصی او روایات می بیا په شعر و ویل خدای
تعالی جل شانه دی زما پلار سمی مشکور کا      هسی وایی کښونکی د دی
کتاب عفی الله عنه چه ما د غرغښت نامی تحفه دغه حکایت رانقل کړی دی

## حکایت له غنبت نامې

له ښیګڼو روایت دی | هسې تولګه حکایت دی
نور محمد کاکړ راوی دی | چې ئې فیض تل جاري دی
د ښیګڼو له خولې وایي | چې غنبت ئې راته ښایي
چې کاکړ یو نیکه زاهد و | لوی څښتن له تل عابد و
تل تر تله ئې عبادت کا | پر دې لیاري ریاضت کا
شپې ئې رڼې په لمانځه وي | په ژړا او په ناډو وي
نه ئې خوب نه ئې خوراک و | عبادت ئې ژوند و ژواک و
چې به کښېنوست په لمانځه | یا به کښېنوت په ستاینه
ورځ ئې تېرله په قعده وه | شپه ئې هم په سجده وه
تل ئې سیر د لاهوت کا | په یوه ګوله ئې قوت کا
غرق به تل په ذکر الله و | هر سبا او هر بېګاه و
یو د شپې ئې عبادت کا | پر ګناه ئې ندامت کا

ترڅ

ketabton.com - The Digital Library



منزګي پښتي سوي له خوبه — په شپو شپو ي وو ويښتو

هسي خوب ي و ليد ګرانه — په غرغښت ښني ښنها نه

وايي اي کاکړ ذ و به — لتا خوښ يمه نيکمخو يه

ستا قدم زما پر سر ردي — ماسوا کښي دي قرار دي

پښه وورځ دده لما نځنه — د شپني عبادت کړنه

وي پاته لتا نور دي — شپي اوورځي د پکور دي

څه جهاد د کره پر تا فرض دي — وايم ستا د غاړي قرض دي

يوه ورځ جهاد افضل — تر ملو کلو لما نځل

څوک چه تل لمنځ وروژه کا — په جهاد بدي يورد کا

طري شره د دين همدادي — بيا خدمت د خلق اهد دي

لتا پاته د واره د نيه — ځان خبر کړه ښه له د نيه

نوره وا خله مجاهد شه — د لوي خداي د دين قاصد شه

د خداي نور پر جهان خور کړ — دا خدمت ي پځان پور کړه

ketabton.com - The Digital Library



چه د بشپړ عبادت سي — ځان د خلاص له معصيت کي
چه له خوبه ويښ کاږه سو — د غزا پر خوا نومره سو
زغنده خول يي آراسته کړل — د غزا عشق تيره کړل
هرات خواته په تلو تلو سو — د سلطان غياث لملو سو
ويکړه هوري جهاد ون — د سلطان مل شو پيملون
څو هوري تر دنيا تير سو — د غازيانو په تول شمير سو
په يي هلته هم وفات سو — ننغ پيخاور و د هرات سو

ميره هسي ژوندون کاندي
مري د خداي پر رضا باندي

ذکر د محبوب سبحان عبدالرحمان عليه الرحمه — محمد رسول هوتک عليه الرحمه

مچل بياض کښې هسي کښلي دي چه عبدالرحمان بابا په قوم مهمند و او په پينوري ژوندون کا پلار يي عبدالستار نوميدی او په بهادر کلی ی ديره وه عبدالرحمان بابا په سنه ۱۰۴۲ هجري پيدا سو او له ملا محمد يوسف يوسفزي تحصيل ی لوست

ketabton.com - The Digital Library



وکا او له مخه ئې فقه او تصوف زده کړل او بیا ولاړ کوهات ته هلته ئې هم
سبقونه ولوستل او بیا عالم سو په ځوانۍ ئې دنیا پرېښوده او اکثر به یې غرو کې ګرزېدی
او کله به ولاړ د هندوستان پر خوا او د خدای عبادت به ئې کاوه د دنیا په کار به نه
مشغول کېدی عبدالرحمان بابا یو عالم رباني او عابد سړی وو او ډېر شهرت ئې د خدای تعالی
جل جلاله په محبت کښې درلود او په پښتو کښې په رحمان بابا مشهور سو په سنه ۱۱۱۸ هجري
وفات سو خلق ئې تر اوس د پېښور په هدیره کښې زیارت کوي کالا او دده شعرونه لولي
د رحمان بابا د بیتو او غزلو دیوان مشهور او ډېر ډېر پیدا کېږي هسې وایي فقیر محمد
هوتک عفا الله ذنوبه په ظل الله پادشاه جهان شاه حسین کابل ته داستول او
له پېښوري د عبدالرحمان بابا علیه الرحمه د دیوان نقلونه راوړل او په قندهار
کښې علما او زاهدو کښل او اوس ډېر دی فقرا او د خدای دوستان د عبدالرحمان با
شعرونه ډېر لولي او خوښوي او عام خلق فالونه پر ګوري حتی په سنجمنی هم دا
کتاب ډېر وایي او خدای تعالی دده په دنیا کښې هسې برکت ایښی دی چه د هر خوږ
زړه دارو به کا او هر غریب او محتاج مستغني کا زما پلار هسې نقل کا چه په
قندهار کښې د رافضي ګرګین خان جور و ستم تر حده تېری وکا او خلق د خدای هسې ځینې

ketabton.com - The Digital Library



چه داب سول چه سپرگ خو بیا سول نو دوی په کوکران کښې مغفور رحمانی برگزیده صمدانی
حاجی میرخان هوتک سنبالم خیل ته ولاړل او له هغه دی چاره د کار طلب کړل او هغو لو
او ویل هر دول چه دی و ویی هغه کړی هغه مغفور ریوه ورځ تر ما بنا مه له نورو پښتنو
خانانو او مشرانو سره مصلحت وکا او هسی ی تړون وکا چه ظالمان مره کړی او خانو نه
لجور د ظلم وژغوری په پای کښې حاجی میرخان علیه الرحمه د ویل راسی چه عبد الرحمان
با با قدس سره هم ویو پښتو چه د ده دیوان ی خوص کا هسی شوروند و بیت

| | |
|---|---|
| زد مکتوب غنډی په پټه خوله گویا یم | خاموشی خو ښیری کا تر غوغا خما |
| کښت د عشق په توده زمکه امان چرې | سمندر بوبه چه زلیت کا پهرا خما |

دغه بیتوند ی ولوستل هغه مغفور حاجی او لس ته وویل چه د ظالمانو کار تمام دی
ما اوس د ستی خاموشی بهتره ده لتوله به په پټه خوله داکو ښې کړو چه ظالمان
رک سی چه مناسب وقت راسی نو به زه پرتاسی اینغ وکړم هغه وقت باید تول تیار ریو
و ظالمان له وطن و باسو نقل کا چه یوه میاشت وروسته جنت مکان حاجی میرخان
د اولس میران او خانان راوبلل او په دما بجه دی جرگه وکړ له او لتولو بقرآن قسم
وکا چه دگر ګین خان ظالم له جوره خانو نه خلاص کړی پر دی وقت بیا حاجی

۱۰

ketabton.com - The Digital Library



میرخان مغفور لہ رحمان بابا تہ دا بیت وند ولو ستل — بیت

| | |
|---|---|
| پہ اسمان ئی یخ بیت کری پسی آب و | خدای وماو تہ ښکاره کی بغدو |
| چہ رقیب راته ترلی پہ زنځیر و | نو چل حبیب را باندی پرانت بند |
| یو حالی منت بار اوس رحمان | پہ صدقہ کنی د خل نشتہ دلو بیا |

نقل کا چہ د خدای پہ قدرت دغه ورځ پر اسمان اوریځ هم وه چه حاجی میر مرحوم دا بیت ولوست بغدو کری لہ ښکاره سوه اوریځ ی لہ یخ بسته سوه نو هم دغه پہ الهی مدد دکانه اوبیا نو جنت مکان حاجی میرخان خاتونه وویل دادی د خدای تعالی مهر او لطف هم زموږ ملگری دی اوس نو وقت دی چہ توری تیری ونکا و کاندو او هانو ان لہ دښمن ډرغورو بغدو چہ پہ ۲۹ د ذیقعده الحرام ۱۱۱۹ هجری اوس قتال سول او د جنت مکان حاجی میر پہ مرد ید قتل بارونو تل او د ښمنا ن ی قتل مړه کړل اوس پہ لو کاتب الحروف عفی اللہ لو بہ د عبدالرحمان بابا شعرو ن را نقل کا

## غزل

| | |
|---|---|
| زه داسی دیوانہ د مجنون چاکرم | لہ رواج لہ رسوم بیرون چاکرم |

ketabton.com - The Digital Library



پنو پسې م په داچاری یما قوک ده | لیونی د خپل شاه په افسون یم لرم
لوی ستری کوم بانه لو مد غمزه ده | دوب هید سندی پخال چون یم لرم
زوال توفیق نو د فتنو راتخ نه دو | په فتنو د روستر کو مفتون یم لرم

رحمان هیچ لیخیلد ځانه خبر نوم
په داسې نه زبون او محزون یم لرم

ذکر د شیخ الصالح محمد صالح رحمة الله علیه سپی وایی کاتب ددی کتاب محمد چې
ملا الله یار الوزی په تحفه صالح کښې لیکلی دی چې شیخ محمد صالح بقوم الوزی و په
حیلو کښی او سیدی او عابد او عالم و چه وقت کی په بد … تیر اوه او د خلق
ارشادی کا نقل دی چه شاه بیک خان د قندهار صوبدار شیخ محمد صالح د غوښت
په کابل کښ ولاړ سی او هغه حلقه ته فیض ورکړی او په تدریس د علوم طالبانو ته هدایت
و ما شیخ محمد صالح ورته وکښل په مال طمع د عزت نشته او په دنیا پسی زه نغواړم
زما داسی معتقد دی چه دنیا ما ته داسی نه چه زه ولاړ سم د دنیا پسی کړه زما عزت
عزاری ما پرېږده او په دنیا پسی حی مه مسافر کوه چه د غه خط ورسید
شاه بیک خان ووېل زما هم عزت مقصود و نه د بل عزتی سپی وایی محمد

ketabton.com - The Digital Library



په ملا الله یار د خپل شیخ پیثامد و کپښې کتاب په تحفه صالحی نوم و بهغو کتاب کښې
د خپل شیخ علیه الرحمه احوال او خبری و کښلی او د د اشعار ی یکښی ضبط کړل چه له هغې
تحفه دا غزل دی چه شاه بیګ تدی کښلی

## غزل لشیخ محمد صالح

دیلی دینی فیض هر سبا ورم | بیهوده منت بولی د نور چا ورم
په اشنای د شیمی نا شا په پلاس کښیوت | رو بان ز ړه یکوم په تلر پیما ورم
پر دنیا لډ تجارت نشو کړ د دنیا کی | زه د مشغولی په بازار عار د عشق سودا ورم
دیلی لیدل د رب په بهانه کی | خزانی که ددی ټول جهان پشا ورم
کر پیر تخت می د سلیمان ته سور کړی سحری | عاقبت ځاور و ته به عمل بیشوا ورم

بیلار عشق خوشحالی پرما حرام
زه صالح که به خوله خوبن پرزړه ژړا ورم

## غزل وله ایضاً رحمه الله

په پرزړه ی عشق خبرنه سی د چیشانو | روغ به نسی په دارو د طبیبانو
چه لوی تن له رنځه خلاص پرزړه رنځور وی | دا د زړه دارو به نکړه حکیمانو

ketâbton.com - The Digital Library



مګر بعد په حبیب دی هم طبیب دی | کارسازی کاد خوارانو رنځورانو
هیڅ اثر ابا ندی نکاندی عالمه | شه دویل درو ګوهر د ناصحانو
نصیحت زړه خواری او په نسته کوم کی | زړه می وړی په منګولو خوبرویانو

که صالح خندی د زړه په یونیو پایی
لوړ دولت په دنیا نشته لالبانو

ذکر د مقبول ربانی علی سرور قدس سره الولی په تحفه صالح کښی یی راوړی
هم شیخ علی سرور شاهو خیل لودی وو په د هندوستان پښتانو کی دیره واو خاوندو ذکر اما تو
او خوارق و په خلقو به بر کله ښی لیدل په مخزن افغانی کښی هم نعمت الله هسی راوړی
په شیخ لوی لوی کرامات ښکاره کړل او خلق په د ګرد هیدل په تحفه صالح کی راوړی
چه شیخ بخپلو مریدانو ته هدایت کاو وعظونه او د سوالونو ابونه به یی ویل او د تصوف
مشکلات به یی حل کول یو ورځ یو سوال ښی وشو چه پیس تراهر لحظه مرګی رجعتی است
مصطفی فرمود دنیا ساعتی است فقره مقصد لری زموږ مرګ و رجعت کله دایم او
مستمر دی او که دامرګ و رجعت دایم او مستمر وی نو بیا به حیات بعد الممات
متعدد سی او د تناسخیانو عقیده به سی بیغه عارف ربانی سی جواب ورکا

ketabton.com - The Digital Library



چه ذات ماسوا دی له بلنه ذات داسماؤ ثابت دی او بدلن متحلل دی بستی وایی أَنتَ أَنتَ لا یَبلانِكَ فَانَّ بونک فِی التحلل ولیس عنده کمِنهُ خبر فانت وراء هذه اشیاء دغه مرگ ورجعت بدنی دی نه ذاتی او هر کله چه تحلل وموند سابقه ذراتو لوی پر ځای دیرې لاحقه ذرات او همدغه تجدد دی چه ددنیا عدم تحقق ثابتوی او همدغه چه مصطفیٰ علیه السلام وویل اَلدُّنیَا سَاعَةٌ رشتیا کوی په تحفه صالح کښ د عارف ربانی علی سرور لودی اشعار دی چه دا غزل ځنې را اخلم

## غزل لعارف الربانی

محبت پیاله می نوش کړه بیجا زکی
د حق نور وینم پسترګو دا یار کی

درست وطن رانه دریاب شو بی دیدن
دیدمی نشی مګر خدای می سبب ساز کی

که زه می شم هم لګوره کړم سر پور تر
ناګهان چه می دلبر پورته آواز کی

اری سر غوڅ د رقیب بیتیره تیغ می
هم به رحم که مالا دلبر غوښت په مهر دناز کی

زه ویار ملا ما نامست ولیو له بلبه
پر غماز د یاری کا بنی د غم ساز کی

ګران بلبنون به د غو مینو وینه
چه تل نامست وی خرابات کی سره زار کی

ای سرور غمازان شوه بی حساب
پاک الله د صورت تش بی مغز پیا زکی

ketabton.com - The Digital Library


دوهمه خزانه په بیان د پښتو شاعرانو چه زموږ معاصرین دي غفرالله لهم

ذکر د اشنای بزم زمان ملا باز توخي ملا باز توخي په الغزکښې اوسي او په

اصناف د اشعارو کښې استاد دی غزل او رباعي وایي او د شاعرانو انبار دی او زما

چه محمد هوتک یم همراز دی ځکه چه تقد بارته راسي زموږ مجلس پیتو دوی او یاران دده

له لطافت د طبع ممنون ملا باز مبادي د علوم و لوستي او په فقه شریف کښې تیار دی

له منطق او حکمت لولي او خپلو شاګردانو ته دي درس ورکوي د محمد په ابتداء د ځوانۍ

تللی وا او پښتونستان ی له استادانو لوست کړی لطیفه

ملا له ملات ملا باز راغي او تقدبار ښې ز ما میلمه سو دستي ما چرګ حلال ګا

او طعام می تیار چه دسترخوان راغی ملا باز دي شعر ووایه

شعر

بیرلو دو دي زړه‌ی ‖ د باز برخه یو چیچې دی

د باز ښیم روي د مرغشو ‖ اوس می بس ا پینکي ورځ دي

ما ژر خند سپین د ... هم حلال ... او د میلمه میلمستیا تر می پوخ کا ... د ... له

... ... ملو ... ده

## بدله

راسه پر ځنګ راسه لیلی تر می نږدی سه لدل | بیمه نر ځی چه می ونه ځتی بیځو به زړه ګو،
راسه پر ځنګ راسه لیلی ولی لماکړی بلیتون | دا ستا لعمد نه زړګی دی پسرو دینو کلګون
که هر څو تښتم نه پرېږدی می ستا د عشق شوانځون | زه ځکه تښتیږم لغنا زید پرد نه پټیږ
راسه پر ځنګ راسه لیلی چه د پېرزوه کم ملهم | دا ستا په عشق کی می تر شا کا د دنیا داره غم
حساب کتاب مجالی می واړه کا تا مینی برهم | لا رو ور تر نسته چه د کښینوم درڼو یکو کمل
راسه پر ځنګ راسه لیلی چه د پېرزوه کم یو ری | کجل درو انځله د وارې ستر کی بدی زدهم تر ری
لیدل به ستا د مخ کوم اندېښنی نکم یوزری | پکار می نه دی ستا بی مخ د جنت زیری ګل
راسه پر ځنګ راسه لیلی چه سره وکړو خوالد | پر تا مین یم بی له تا می نسته هیڅ اندېښنه

زه د غره باز د هم نا بندی کړمه قفس کی پرشد
یو وار می خلاص که چه بیا زده کړم دوز خیرول

ذکر دا فضل المداحین ظل الله فی العالمین شاه حسین لا زال ظلال سلطنته من مفا[illegible] المسلمین پادشاه جمجاه ظل الله شاه حسین بن عالم خیل میرزا [illegible] د مغفور جنت مکان حاجی میرخان زوی د [illegible] چه اوس هیڅوک انی لښکر پادشاهی ده او ویشانه ی پسیوری آ [illegible] پادشاه عالم پناه په ۲۳ د ربیع الاول په ۱۱۲۴ سنه هجری [illegible] د کلات

ketabton.com - The Digital Library



پیدا سو څه وخت چې حاجي میرخان د بیت الله او د اصفهان سفر وکا پادشاه ظل الله کوچنی و
اولاد اعلم علما ملایان د محمد هوتک تخزی درس ولوست او تر دوولسو کلو پوری د عمری
د فقه او تفسیر او منطق او د بلاغت کتب ولوستل او په قندهار کی له پلار سره مصالح
د امور نزده کړل او په جنت مکان حاجي میرخان په ۲۸ د ذیحجة الحرام سنه ۱۱۲۷
هجری په قندهار کښی وفات سو پادشاه ظل الله ثورلس کلن وا و د خپل مشر ورور شاه محمود
خان سره و میر عبدالعزیز چه د حاجي میرخان ورور و په دغه مرګ د ورور په قندهار کښی
مشر سو خو داوس رعایت ئی کم کا تر څو په سنه ۱۱۲۹ هجری د شپی د نامرغ له قصر له
بام خطا سو او راولوید مړ سو د خپل عم تر مرګ وروسته میر محمود په قندهار کښی
پادشاه سو او د سیستان او کرمان پر خوا ی لښکر وکا په سنه ۱۱۳۵ هجری چه د
اصفهان د ضبط دپاره ولاړ په قندهار کښی خپل ورور پادشاه ظل الله شاه حسین پادشاه
کا او د قندهار او فراه پادشاهی تر غزنی شاه حسین تدوړ کړله او د لتو غلجو ملکانو او
خانانو او مشرانو شاه حسین په خپله پادشاهی ومانه او خطبه او سکه ئی په نامه مبارک
جاری سوه شاه حسین ادام الله دولته ډیر ورا و مشهور پادشاه دی د رعایا
په داد رسی او د داد خواهانو فریاد اوری د ظالمانو لاس کوتاه دی او رعیت آرام دی

ketabton.com - The Digital Library



د پادشاه عالم پناه دربار کښې تر علما او صالحانو لا لوړي افضل العلما ملا یار محمد هوتک
چه د پادشاه استاد دی لوی عالم دی په فقه کښې ئې کتاب مسایل ارکان خمسه کښلی
دی بل لوی عالم د دې عصر چه د پادشاه ظل الله تر ظل لاندې ژوند کا د قندهار د جامع
امام ملا محمد یونس توخی دی چه د ملا محمد اکبر فرزند دی او د علومو تدریس کا او کتاب
د جامع فرایض ئې کښلی دی په پښتو او بل عالم جامع الکمال ملا زعفران ترکی دی چه
مدار المهام او صدر الافاضل دی او د پادشاه ظل الله کینې لاس دی او د محمد چه د
پادشاه زوی دی استاد هم دی ملا زعفران په حکمت او ریاضی او طب کښې استاد دی
او طبستد زعفرانی ئې په حکمت او طب کښې کښلی دی دا کتاب ما هم لیدلی دی او مطالعه کړی
د پادشاه ظل الله شاه حسین په نجم کښې ماهر دی او په نیولو د ممالکو کښې گړندی د
غلجو طوایف تر غزنی پوری د ده پادشاهی ځی او په ابدالیو کی تر سیستانه او هرات
حکم کا په ۱۱۳۸ سنه هجری شاه حسین لښکر وکا او د بهادر خان په سالاری ئې
د شال او پوښ ولایت فتح کا او په کال ۱۱۳۹ سنه پخپله پادشاه ظل الله تر
ډیره جات فتح کړل او تر گومل ئې ضبط کړل او س په دغو ټولو ځایو کښې د ده سکه چ
ده او حکم ئې ساری پادشاه عالم پناه په ارگ کښې د قندهار نخه قصر چه نارنج باغ

ketabton.com - The Digital Library



بلند پېژندل شوی وه . یوه ورځ د دربار کاتب خانه کښې او په مجلس کښې علما جمع کېږي او شعرا او فضلا
ټول لوی ژر محمد پیر تمک کاتب د دې کتاب هم په دې مجلس کې یم د پاچا شاه ظل الله اشعار
او ابیات پېغام کاتب هم د کتاب د دیوان ی مرتب سوی دی کله په پښتو اشعار وایي
او کله فارسي نثر په نثر هم میل کا او کتاب ~~د دیوان~~ استاد العلما ملا یار محمد قندهاري قرات کا
په سهو و سقم ئې زایل کا او د پاچا شاه په اشعارو کښې لږ سهو لیده شي او علمای ټول
په بلاغت او فصاحت قایل دي او سماع ته مایل هسې وایي محمد کاتب د دې کتاب
چه یوه ورځ د پاچا شاه ظل الله په قصر کښې مجلس و او فضلا او علما سره راټول ناګاه •
احوال وسو چه قاصد راغلی دی او پیغام ی لېږلی ځای راوړی ملا زعفران
د باندې ورور یو ګړی پس بیرته مجلس ته راغی او زیري د فتح د شال او ډوب ی
وکا او دا بیتونه ی عرض کړل

بیت

صین پاچا شاه د ډېر ننداره ګوري | چه ی فتح په لښکر و ډوب و شال کا
د زیري ی راوړي دی حضور ته | نو زعفران انعام پر سر زعفراني شال کا

شاه عالم پناه ژر زعفراني شال ورکا او په دغه مجلس ی ټولو حاضرینو ته شالونه
شیندل او د پاچا شاه په انعام سربلند سول هسې وایي محمد کاتب د دې کتاب چه

د

ketabton.com - The Digital Library



د پادشاه جهان پناه اشخاص دیردی او دوال د ول خوږ دی دلته یو غزل نقل کوم چه د
مجموعه د کلام اصول مطور علام خان خوږ

## غزل شاه حسین دامت سلطنته

بلیاندی د غم پیچا و مجبور کړم | په تیارو لی د هجران ی تا دور کړم
بیلیاندی می بیسن او تبکی د خیبرکي اړی | تا د فکر په گرداب کښی تل غبور کړم
د فراق پیری می تعیوت و مري تر | په جهان کښی ی رسوا که منصور کړم
په وصال دی ما یم نا بادیم د لبری | د بلیون فکر په زړه کښی ناصبور کړم
د باهو عشق می وخوږ په بچگر کښی | غمازانو په غزو عُمرو تا مهجور کړم

خلق یاد زما د عشق په لیونو کا
زه حسین محبت ستي مشهور کړم

ذکر د شاعر شیوا بیان محمد یونس خان — سبي روایت کا زما تر بور رحمت بنونک
چه په سنه ۱۳۰۱ هجري پیښور ته تللی وسم ، د هلته می پښنیر کښی محمد یونس خان شاعر
شیوا بیان ولید او د ده اشعار می سماع کړل محمد یونس په د ملک ال پوپرش معنی لوان و
او په قوم سوسی خیل و چه پلار ئی نور محمد خان لد موسی خیلو نه د کسی د بابه سر دار علم

او په ځینو ځایونو کښې د محمد یونس په پیښور کښې علمونه او کتابونه ولوستل او په هغه وخت چه عبدالرحمان بابا ژوندی وو د هغه شاگرد شو او د شعر دیوان ئی جوړ کاچه ډیر غزل لري . د ځینو کښو معروف سو محمد یونس مهمان دوست او کریم سړی دی مسافرین ئي په کښو پرده بیره اسی او که څوک عالم او شاعر ورته ورشي ډیر قدر ئي کا او په عزت داری او میلمه نوازي کښې همت کا رحمت هوتک حکایت کاچه محمد یونس یو ځلي د یره کښې ډیر باقدر کړم او بیره ئي ماته ویل چه یو د ښې شپه د دوی په کور کښې پاته شو چه یو د ښې شپه ئي زما عزت وکا او بیره ئي هم ئي اشعار بیان کړل د هغه دوه غزل رحمت دده له دیوان ماته راوړل چه په دی کتاب کښې ئي ثبت کاندم خدای تعالی د محمد یونس خان ژوندی او معزز ولري

## غزل

نوو ... ندو ته ښه باندی سر چا | کله یا مونږ ته شیرین وصل دو بر چا
... بت ئی ښاله حسن روزی شوی | په دا حسن بلیه شمس و قمر چا
... پله می خپل مهر رهبر شوی | راکاوه به دو لبر د نور خبر چا
... استاد ز نغو بوی تر شام شوی | دوباره به یا دوال مشکو عنبر چا

ketabton.com - The Digital Library



په وصال لیږي خونابه سترګو ووری | په آسمان بېل بیا سوځي لمر چیا
بیا بیسته ئې لې له منځو مې پکو ریښ | څه جدا له محبوبه نشي له بره چیا
جدایي بې حق ورته ځ له ګنده بیره | اې چه تو شلي د وصال شهد و شکر چیا

و لرم تدې کاروسپاره یونس
مقصود محمد دې میند لې په هنر چیا

غزل ولد ایضاً اطال الله عمره

شیرین یار څخه د ژوا په سترګو تور دی | چه د نور [illegible] کور دی
په دنیا کښې چه بنیاد د آشنایي ده | بې عقد د جدایي په وزن [illegible]
واویلا د عاشقی له پیره محره | لیونی عاشق د ایزار له پیده رو مور دی
که بیدرد شا لطف زبان د کوم دی | شا د حسن خبر تلي لور لیو دی
د محبت جوري د دروندو باندې کښېښو | خوار عاشق تر دراند بار باندې نسوری دی
باري هم د ثقد وارد ته نه سیږی | هغه څوک چه ستا د عشق په برق سوری دی
چه د عشق څراغي نوي بګوګل کښې | هغه په [illegible] مړه د نور ګوری دی

زه یونس چه ستا پېمینه کښې رسوا شوم
اوس په بیا رته چار واته راته غور دی

ketabton.com - The Digital Library

## معیاته بانعم یوسف

څو چه نیم [illegible] دیونس غمکی [illegible] حرام شد

[illegible] محمد ګل مسعود [illegible] روایت کا رحمت بوتاله چه پدوران

دسفر [illegible] مسعود [illegible] محمد [illegible] ویل سو چه [illegible] شا [illegible] واو [illegible]

[illegible] بدی ویلی او [illegible] یوه بدله د د [illegible] رحمت تر بور رانقل کا چه دلته دی کا [illegible]

### بدله

| | |
|---|---|
| چه [illegible] پد [illegible] شیدا [illegible] بیل شو | اور [illegible] باندی بل شو |
| [illegible] دی غم [illegible] بل شو | اور باندی بل شو |
| [illegible] | سوی به اور [illegible] |
| د بیته [illegible] غمو [illegible] شو | اور باندی بل شو |
| [illegible] بنایست [illegible] | وریت دی باور [illegible] |
| داسی [illegible] تا پور [illegible] غمل شو | اور باندی بل شو |
| [illegible] خدای [illegible] محمد ګل [illegible] | تاته تل تل ژرا [illegible] |
| [illegible] پواویلا [illegible] الله [illegible] شو | اور باندی بل شو |

ketabton.com - The Digital Library

ذکر شوی زمان عبدالقادر خان ختک                چه د خوشحال خان ختک زوی دی نواب محمد افضل په
هسی روایت کا چه د خوشحالخان له ختک ترمړه پس عبدالقادر خان په سنه ۱۱۱۳ هجری کابل ته
لیږل شوی و چه د هغو د قوم نه الاول ته د راغلی او دغا روانو د تیرید لو خبری ی و بنگښ
پرخوا کولی و ایی چه عبدالقادر خان ختک اوکړندی خان و د ختکو خانانو ی تابع و او دده
وفات په سنه ۱۰۶۱ هجری ۲۳ د جمادی الثانی واقع شوی و اوس چه دغه کتاب کوم ما تر
نه د مبارکه چه دا خان به وفات شوی وی له دنه خو هسی لیکم چه وفات سوی بوی خو ده چه
اوس ی چا د ژوندانه خبر ندی را کړی له دی مروی خدای دی وبخښی هسی وایی په
عبدالقادر خان په هندوستان کښی هم عمر وند تیر کړه او هلته په نقشبندیه طریقت کښی د
سو متعبد او پارسا سړی و پخانی د مشهور کښی انصاف کا او لخدای به ی ترس کا
عبدالقادر خان د شعر دیوان لری او د یوسف او زلیخا قصه ی په سنه ۱۱۱۲ هجری نظم
تصنیف نامه ی هم په پښتو کښلی او د شیخ مصلح الدین سعدی گلستان ی په پښتو را واړا
په سنه ۱۱۱۵ ی یو بل کتاب نظم کا چه نوم ی دی حدیقه ختک د دغه کتاب ما په سنه ۱۱۳۰
هجری له صدر الزمان صاحبدر خان و بدیچه د مؤلف په دستخط و صاحبدر خان دا ست شوی
هسی روایت کا چه په دیره ما د غه کتاب و مونږ چه د یو ختک په ضبط کښی و نقل کا
چه عبدالقادر خان د طریقت نقشبندیه کښی خلیفه هم او د پیر خلافت ی کا او هم

ketabton.com - The Digital Library



ښادي کا شيخ رحماني سعدي لاهوري پخلا فت تا کلي و د عبدالقادر خان شرونه د بر
دي نواب محمد انور د ده سلي غزلونه لکابل راوړل ادس زه دلته لرحد يقد ختک تحفه دده
يو څو شو ونه نقل کا ندم

## غزل

دريغ نو زعمو ندليري شو لد د ل | يکبني غم د خپل اشنا دي تل تل
شبنم وصل د گل پامونده خاموش شو | تري محروم شوه پرشور کا ندي بلبل
بنده په ژبه د قلم شو ده پد مجلس کښې | شمع تا په د خپل سوز قصد دېل
عاشق پيچ مه د جبر د مشق لسوز | د النبه پري معشوقي ولګول
فانوس پد پرده څراغ مه پټيږي | کري مخ پد پلو پيټ و ما ليدل
پکا تتم د پروانه چري ټکان وسو | شمع اور پد تنذي بل کړ کرزيدل

درستهٔ شيد د پيار و عبد القادر کسي
قد بي غمه پد پالنګ بانذي تحمل

## غزل ولد ايضاً

شه خوښ د پادشاهي پتخت ختلو | هميشه ي غم کوه د پر يو تلو
هم مي اوس کري پيغلو وري ردي | غافل مشه د ديو ستر ګو د تلو
پيشيدي جمشيد دل آزار وي | د مغو مخزن نوي د کتلو

ketabton.com - The Digital Library



خندنی کړی په زړه دوزه جامو کښې | چه غاښ یې د عقیق دا ست
داجل د سوږه تا لخت نالیهانی دی | چه بیخ کوی ئې د تحیز ته مو

هغه زړه چه عبدالله در په مرده وی
یکو کل د ښند ندی د سا تلو

ومن رباعیا تله

وقت د هجران و ومی لیدلی | یو شو بلبلی چه ګرځی پېدلی
خواری خستدوی ویی ګرای | چه نی ګلونو و یا ئیستلی

ذکر د صدر الاکابر دوران بهادر خان ادام الله بقاه پدی دوران بقند ا مشهوردی په بهادری او توریالیوالی معروف د پاچا ظل الله یا ... او د بنګر و سا د شال او پښتونب کلاوی ئې فتح ... او ډیری ئې ضبط کا د بری سمندی ئې خواتد په ځ کا هغه خای اخلی او بری ئې لرازل په سر صدی بقند ا رکښی تو الخلق ... او محتاجان او فقرا ئې پکرم او سخاوت ماړه دی د جودلاس ئې زر بخښ دی هر کله د غریبانو دستګیری کا پادشاه عالم پنا د شاه حسین ئې په حضور بیکا او عوام ئې په امیرالامرا یاد کا خان عالیمکان په علوم کښ عالم دی او په اشعار بی نظیر شعرا او علماء ئې پلاس د کرم پالی او هیکله ئې مجلس لدی لطایفو خالی نو کډ

عمله ښې په دوران طاق دی او پابند نه په علما، ته حاتم دی چه لسوزه راسی علماء او
شعرا سیلمه کا او دوی ته بښندنی وکه خالق تعالی د دا کریم دوران او حاتم زمان تر ډېره
تره ونډی، ساتی آمین یا رب العالمین    بس وایی کاتب الحروف محمد هوتک غفر الله ذنوبه
وستریو به چه خان عالی مکان دوی کتاب دپاره لیکلو اشعارو ټیخه ما تر ټوه بدله راکړه چه د تعدی
غښته کوم چه کتاب لره ذکر خیر د دی حاتم زمان خانی توی او هر څوک چه ی ولولی د عاو ته
وکا هغه بدله داده

بدله

بېلتون د زور دی تر لیمو می سهار شنم څاڅی | لکه شبنم څاڅی
دا مرد یاقوت می یلمن کښې ستا په غم څاڅی | په غم الم څاڅی
گوره لیلی یاران د او بنو ستا په چم څاڅی | څڅکه په چم څاڅی
راغله لیلی په شینکی خال څڅا په گلو کوی | په سرو څنگلو کوی
سهار چه وزی سیل کا باغ په بلبلو کوی | گل په اوربلو کوی
ملالی سترگی ی کا قد په وېر ژړلو کوی | زیب په کنځلو کوی
ډېر ورېږ وینې په هر گړی هردم څاڅی | لکه شبنم څاڅی
سنبلی ځلی د باغ یلور محمد څڅا مه کوه | عاشق رسوا مکوه
وربیت سوی زړه می دی مین پوری خندا مکوه | راشه جفا مکوه

ketabton.com - The Digital Library



زه یم پتنګ تړی د یوه ما جلبلا مه کوه | نور ظلم بیا مه کوه
یم ستا له عشقه لیونی پر ما ما تم شا ځی | غم او الم شا ځی

ذکر د شاعر محقق ملا محمد صدیق پوپلزی — په ارغسان کی اوسی د یار محمد پوپلزی
زوی دی او ددی زمانی ځوان شاعر دی په عمر درویشت کلن دی صرف ونحوی
پر ملا محمد نور بریڅ ویلی دی په فقه او منطق هم پوهیږی کله چه قندهار ته راسی
کاتب الحروف ئی وینی او مجلس ورسره کا عشق ځوان دی او زړه ئی له لاسه ایستلی یچیل
محبوب لیسی ژاړی زاری کا ګریانی کا دردمن زړه لری او سترګی داوښکو ډکی لری
مینی هم په اوس وی دی چه لکوره کلی ورکه وی سوزناکی بدلی لولی او کله چه د ډنډا لو
په ډله کښینی مجلس ژړه وی او مجمع ژړه وند یچیلو ناره غلبلو سوځی زمانه د د
پر ځوانی افسوس وند کا او عشق ئی جنون ته رسیدلی دی بالبداهه اشعار وایی او
د زړه درد په سوده کوی یوه ورځ د کاتب الحروف پلور کښیناست او مای د حال پوښتنه
کوله د زړه یخوالا کښیوت ژړل ئی او دا بدله ئی بالبداهه وویله

بدله

لکه بلبل چه بیله ګله بل ارمان نلری | هسی هی یاره بله بیله عاشقان نلری
چه ژړا کاندم بیله یاره بل مطلب نلرم | چه هسی سور بیمه یو بیو بل سبب نلرم

بې یاره تور شه نغواړم دا تور مطلب نلرم
په تورک مین سې بې له یاره بل ارمان نلري

ترناپه ځان قربانوم داي نیاز منډ یار
تل دي څموند گلو مداي نیاز منډ یار

لستر گو او دښې تو یو مداي نیاز منډ یار
زړه مې بې تا پدیو ساعت د مدا او توان نلري

که تندمې وتړي که پرېږدي اختیار خو تاره دي
غم د بیدا ندې بلچیاره څامې مارره دي

زړه له دراغلي دي میلمه سابیگاره دي
د زړه لکور ته تنگ یدېشي هیڅ شان نلري

ذکر د برگزیده سبحاني ملا پیر محمد میاجي
ملا پیر محمد هوتک د ملا سرور مغفور
زوی دي په ملا سرور له میا فقیر الله صاحب څخه استفاضه کړې ده او ملا پیر محمد تخلید
پلار ئې حنیف و موند د علیین مکان حاجي میرخان سره بیچگو ئې ملگري وي په د شاه ظل الله
ورور شاه محمود ادام الله دولتهم اصفهان ته ولاړ ملا پیر محمد هم ئې هلته و خوبخت
اولاد انفاس میمون ئې استفاده کا او خلق د خداي شریعت او د امام اعظم صاحب
مذهب ته را بولي نقل کا چه په اصفهان کښې میاجي صاحب له روافضو سره مباحثې کا
او په دلایلو علمي دوي ملامت کا لکه چه علماء روم چه ور اصفهان کښې دي هم
ملا پیر محمد صاحب عزت کا او پیر افغان ئې لقب کا میاجي صاحب په علم اخلاق
کښې یو کتاب کښلي دي چه افضل الطرایق ئې نوم دي او بیا هغه کتاب د عقایدو او
الشلاقتو بیان کا چه بل کتاب هم لرینه چه القرایض في رد الروافض ئې نوم دي یا بد

۱ دفن

ketabton.com - The Digital Library



اوقف الطرایق کښې ی دا حکایت کښلی دی چه زه ی له هغه کتاب ولله ثبت کاندم چه په دی کتاب کښې یادګار وی

## حکایت

شیخ متی په خلیلی و | دی له آره لوی ولی و
یو ورځ روان پر لار و | لوی څښتن په استغفار و
کړه ده ذکر د غفار | یو شپیه نو اوزګار
پردی لاروی تیر د ګټی | لاری مخکی وی په ریتی
ډیری شپی راغی رویدار | چه ی صافه کړه له لار
یو دیقان به آبیاری کړه | شپه په شپه به ی خواری کړه
ده به لید پیتوره شپه | شیخ متی په زیار اخته
له اخته به بیزار و | ټوله شپه به هم بیدار و
یو وشپه راتیر ملیار سو | شیخ متی ته پګفتار سو
ای د خدای رویدار څه کړی | د دومره زور زحمت پر څه کړی
ته بادار یې د ولیانو | ته قدوه د صالحانو
ستا د دخاوری سره زړی | د هر چا کحل البصر دی
پښې شپې یې ته بې خواب | په زحمت په اضطراب

ketabton.com - The Digital Library


پاکوی دلاری گمتی | په دی خاورو شو دی گمتی
داسی دوی شیخ متی | د مولا لعشق مستی
چه خدمت د خلق الله | یو گړی په یوه ساه

تر هر څه مهتر دی ورور ه
زده کړه دا خبره گوره

ذکر د شاعر خوږ گفتار الهیار افریدی عبدالعزیز کاکړ همی روایت کا چه دا شاعر په موری کښې اوسی اوس د ختلو مینتو کالو پیغمبر دی دیوان د شعرلړی کلام ی شیرین دی لکه عسل مانری عبدالعزیز کاکړ د غه غزل را لکا په پلې کتاب کښې ثبت سی

## غزل

چه ستا پغم کښې بندیوان یم را بهر به نشم | د بلیتون او بنې تو یو هد بې پر بر به نشم
ب دی لتا په د عشق لغیم کړه چه زما حال و وینې | شنه به بی بر و ند عشق دی هیڅ په بربر به نشم
مړ دی پروت یم د گدا بخیر نظر نکوی | کم مرمد هم بی بیا زیاره ستا نظر به نشم
اورده دمینې راته بلکامیږی وریت دکړم هر | ستا د وصال په ارو سوږ سوی څیگر به نشم
که جفا کاندی که وفا پروت دی و درته یمه | ستا له دلبار د به مخ نکړم په بل در به نشم

الهیار وایه دی په دلبار نظر دی خوار یا لیلی
که می هر څو رسی شرې ازه په صدر به نشم

ketabton.com - The Digital Library


ذکر صدر دوران بابو جان بابي — د کرم خان بابي زوی دی چه په انغزکښ
اوسیدی هغه وقت چه حاجي میرخان علیین مکان په قندهار کښ د غلجیو لښکر جات کا او
ګرګین خان ی وواژه بابو جان بابي ار کلات دیر غښتلی راوستل او له ماشوری د
قندهار ښار حصار دینو او هغه وقت چه ی ګرګین خان مړ کا نو ی په کلات کښ د حاجي میرخان
د رنوا حکومت کا هسی وایی محمد کاتب الحروف چه په کال سنه ۱۱۳۴ هجري چه شاه محمود پادشاه
د پادشاه دوران شاه حسین ورور لښکر وکاده او اصفهان ته ی دیر غل غزیمت وکا
بابو جان بابي سره له خپلو غښتلیو لوانانو چه دری زره تنه هونګ او توپخی او ترکی او
غني الکاخیل راغلل قندهار ته او د شاه محمود سره ولاړل اصفهان ته په جنګو کښ بابو جان
بابي هسی میړانه وکا چه رستم دوران ی هیر کا بابو جان د میا نجي صاحب شاګرد
مرید و او په سنه ۱۱۲۹ هجري ی په مثنوی د شها او ګلان یو قصه نظم کړه چه
ښنا ندی نقل کا په مجلسو کښی د اکتاب قصص العاشقین نومیږی او سلا مند مشهور
دی په دغه کتاب کښی د عشق توصیف کا او هسی وایی

## مثنوی عشق

عشق یو هسی توریالی دی || چه پیر مرغای ی بری دی
د عشق اور هسی سوزان دی || چه سوځلی ی جهان دی
زړه بی عشقه کله زړه دی || چه بی عشقه زړه د مړه دی

ketabton.com - The Digital Library



نه دی عشق په یوه رنګ | کله صلح کله جنګ
په بناغه کا نه دی متل | په دی خوږ تر شات عسل
په بې عشقه سر که دی | لکه بې مغز یو لادو دی
زړه بې عشق پکار نه دی | هم هر زړه سزاوار نه دی
په دعشق وکا خبری | کړی یخوبه دا مرغلری

دیاکا نو عشق سزا دی
امانت داد مولا دی

کرد افصح دوران زیدی خان مهمند زیدی خان زوی دی د غیاث خان او د مسعود خان مهمند لمسی دی په کلی د مهمندی پناهد بالاسی غیاث خان د حاجی میر خان علیین مکان همراز او ملګری وا او زیدی خان اوس تکړه سړی او د آشنایانو همباز او د مساز شاعر دی د پاتشاه ظل الله پیج کښې عزت لری او د شوکت او عنت خاوند دی پر آشنایانو مهربان دی او د کاتب الحروف مجلسي دی اشعار ی خواږه دی او د بلاغت علوم سې لوستي دی په فقه او تفسیر او صرف و نحو کښې هسې ښه او پوره لوست لري چه طالبان ی حل د مشکلاتو ځنی کا زیدی خان په ۱۱۳۶ اصفهان ته ورلاړ او هلته ی د شاه محمود سره صحبتونه وکا بیا قندهار ته راغی دیو کتاب ی پشرح د حال او جنګو د حاجی میر خان او شاه محمود وکښلی دا کتاب

ketabton.com - The Digital Library



څلور زره بیتونه دي لوټ می دي محمود نامه کله چې دپادشاه ظل الله پېنځ کښې
ولوست زر طلاوي صله ومونه له یې طبع کښې هسې جواد بیت پروت دي په صغه
صله پېسو ته ورځي پر یارانو او آشنا یانو نثار کړه او ربیدي خان غزل او مثنوي
او رباعي پنځل دیوان کښې لري او محمود نامه یې هسې خوږه کتاب دي چه اکثر پښتانه
ي پېچلو کښې لولي دګرګین خان ګرجي دوژلو قصه او د اصفهان د فتوح تو نقلونه
ټول پکښې سته هسې وایي محمد کاتب الحروف په ماله ربیدي خان هم درخواست وکا
چه په دي کتاب کښې د محمود نامې څخه ډیره برخه ثبت کا نو د ربیدي خان هم ما ته
دکتاب یو باب را کا چه دګرګین خان دوژلو قصه ده او هغه ما دلته وکښل بتوفیق الله تعالی

## مثنوي نقل له محمود نامه څخه دي

په بیان دوژلو دګرګین خان او مدح وصفت د حاجي میرخان علیین مکان

اوس به تو نا ته حکایت کړم د بنو ‖ خوږه روایت دګرګین خان د وژلو
چه میرخان تللی اصفهان ته وند ‖ څه ځي ملکي د پاک سبحان ته وند
پاپاچا ته عرض کړ ټول احوال د پښتون ‖ دګرګین ظلم بد احوال د پښتون
پاپاچا ویل زه نشوای کولای چاره ‖ دګرګین خان ظلم ستم د یاره
کړی معزول کړم قندهار به پرېږدي ‖ جور و ستم او خیل مقدار به پرېږدي

گرگین خو گرګ دی گرګ خو ظلم کوی
وینی تو وینه هم پیو ند څیری

زه هم خایف یم چه بد تحکم گرگین
نا مسلمان دی ارمنی دی بیدین

نه چه اسلام کی لحاظ پابند گښیږ
نه نصرانی نه له عیسی بیر نیږ

بیدین هم زه چه خدای کړی قهر بکاره
د سلطنت پر نا کوم سی تیاره

میرخان ویل ای حسین پاچا و گوره
حال د حاکم او رعایا وگوره

گرګ د ایله کړه پر رمه سو شبان
جور و ستم کا نه ی بجید گرگین خان

موږ له طاقت نسته چه کړو بنه یاتی
صبر پر ظلم د ظالم ارمنی

دا څلور هم واردی راځم سلطان
عرض د ظالم له لاسه کړم سلطان

که پاچا نه کړی داد خواهی د مظلوم
ظالم حاکم کا ظلم دیر پر محکوم

جور چه د پر سی سلطنت سی برباد
د ظلم قصر پیښا بی بنیاد

عو بیده اَلمُلکُ یَبقیٰ مَعَ الکُفرِ وَلَا یَبقیٰ مَعَ الظُلم

کافر کولای سلطنت سی مدام
که وکړ داد نه ی پاچا بر پر انام

مگر ظالم نو نسی کړای سلطنت
خالق رحیم دی ورکوی خلافت

پاچا ته چه زړه ی وی پیهر و دات
د خدای عیال ګڼی پر محکمه انسان

سلطان واوره پښتی غوږ داویا
مکړه ستم د خلق الله پیهر پاچا

ketabton.com - The Digital Library



دستمګارو پای به راشي وي خراب
د ظلم اوری کا پخپله تراب

د مظلوم آه د اسې کاري دی ګوره
چه اوري ننځي د ظالم ټکور

ملېمي به بلي کا د ظلم پکور
لمولد بد کاندي بېنوا پدي اور

ښايي ظالم چه رحم د کا پځان
په ظالم خوار نکړي خپل ځان او جهان

سلطان ګوره پر ځان رحم وکړه
خپل کلي کور په جور مه دورانوه

یا پخپله هي دنیا وکړه میرخان
خو غوږ ی نه داوري یده وله ځان

ګرګين ي پر لیبو قندهار کې ظالم
ننځي کړ دفع لاس ده د له عالم

ګرګ ی شپانه کا چه کړي خوار رعیت
د ګرګ بچیر ځیري په ظلم وحشت

میرخان خو لیدی ولاړ حجاز له چه کړي
رسول د خدای ته پیرزاري داد خواهي

## دادخواهي د میرخان په حضور د سید الانس والجان

ولاړ ې د ښيې ې پیثرب کا فریاد
رسول د خدای ته په سو قوم برباد

سته پر امت راغی د ظلم دوران
واوره رسوله د دی قوم فغان

پښتون خو ستا پر نامه ځان کړي فدا
ای خیر الناس واوره ته دی ندا

وژغوره دوی ته د ظالم له لاسه
ګرګين ملنځ د پښتون وباس

ketabton.com - The Digital Library



تا پیامه دی کلمه کوی پښتون | نه بسی بیځکله لتا نه راستون
زړګ وږوندون موږ دا سلام دپاره | ستا د درباب ستا د سلام دپاره
مدسو کړه هیر خیرالوری رسول | فخر کونین نورالهدی رسول
اوښکی می څاڅی پر درباریم ولاړ | قوم سو پاوړ د ظلم پتولد لتاړ
یو ولد نظر وکړه پر موږ په سوو ړ | و ظالمانو ته تر څو به یو پیر
ستا لطف و حضرد عی شامل پر جهان | بربخراب زړه دی ستا پېغمبر ودان
لدستا نظر نوی خراب سو پښتون | پا ورد ظلم تورکباب سو پښتون
راغلم لدلیری ستا دربار ته نبی | ته می شفیع سه خدای غفار ته نبی
په پر پښتون قوم نازل کا رحمت | کړی ی خوندی ناموس پخپل مرحمت
لاس د ظالم ی لګری وای الله | ویح سی د ظلم دګند و خیرو دنیا
ستا شریعت سی تینګ ملخ د پښتون | ورک سی بیا داوکم سی رنځ د پښتون
وامی دی سوال ولاړ د درته یمه | محتاج د تش ولر نظر ته یمه
د قوم حال کرم درته عرض یادب | ته ی پادرر د کل عجم او عرب
بلید تا نه لری پښتون خوا لګر | ته ی ملهم د خوږ زړو د پرهر
وژغوره زموږ نامه و ناموس لډ بیداد | کړه بی ناموسو ظالمانو بربا د

م

سر ئې دا پورته زمو په حال وګورد
د ظالم ظلم بد احوال وګورد

نه دی لتا شرم و حیا ستا نه ښا
نه شرم کا نه ئې له عیسی ارمن

عرض من د حال و کا وتا ته پیښوا
بلخوک مو نشته ځو اګر په نیا

خوب لیدل د حاجي میرخان پېښه ښه طیبه کښې او زیری د نجات له ظلمه

چه میرخان هم عرض کا حال د ظلم
هغه ښیه مات سو توره د ال د ظلم

میرخان په خوب ولید صدیق اکبر
چه ورسره حضرت فاروق د عمر

وې ای میرخان په زیری لری د غم ملګره
قوم د خلاص سو کورت ماتم مکوه

ولا پښه قوم ته د وا زیری کړه ژر
چه د ظالم سو کم نقصان او ضرر

په بښونت ورخدای ته له ظالم آزاد
نه بسی ننګ او ناموس ئې بر باد

خدای به دا قوم کا پر رحم و دان
نوم به ئې وینه مجاهد پر جهان

تل به د خدای په بندګی کړوی لوری
ځول بې نکا مرید ته لیه ور خوری

کلمه د خدای بوی جاری پاکو
ورکوی دوی به په دی لاره کی ساه

ځوی طره وی د اسلام په بګری
نه لبسی ورک نوم د دی قوم لښري

ketabton.com - The Digital Library



## زیری اوریدل دمیرخان اوفتوا اخستل له علما و

اشیری چه واوریده میرولیس خان پیغام · خوبن سو دیغو په پیغلی کلام
بیای پیدا کړل علما د حرم · مفتی قاضی او هم پیشوا د حرم
حال ئی د ظلم دګرګین کا بیان · فتوا ئی وغوښته له دوی میرخان
تول علما ددین فتوای وکړه · ہمی تحریر ہمی انشای وکړه
چه د ظالم د ظلم رفع روا · په تیر پیر وی دی له اسلام سوا
حاجی میرخان راغی وطن ته بیا کال · قوم ئی ولیده پظلم پایمال
په تدبیر کښیوت په ناموس وساتی · تنګه د قوم کا په تینګه خوندی
مشران ئی ولیدل د قوم لپیلا · و دوی ته ووی د حرم ماجرا
دعا د خوب او هم فتوا د عرب · قوم ئی کا د خان دښو لطلب
ګرګین خبر سو چه میرخان څلوی · وی کتله چه افغان څکوی
ظلم ئی دیر کا پر خوار انو د قوم · خان ئی کا ګرد غمخوارانو د قوم
مشران ئی زاوستل په صبر و په بند · منافقین ئی کړل لقوم سربند

ketabton.com - The Digital Library

## مصلحت د میرخان او قرآن کول د قوم او بیا وژل د گرگین خان

حاجی میرخان وکا تدبیر مصلحت
مو لو قرآن وکا په خان کا خوندی
سید آل ناصر او بابو جان و بابی
میاجی هم راغی د میرخان پکومک
عزیز نورزی د دلارام پهلوان
راغی لفرو د الکو د حلب ک
بل یحیی خان بل ئ زوی محمد خان
یونس کاکړ وکا یرغل په گرگین
گرگین ئ مړ کا ملتول گرجی سو کشتان
قندهار و بنو حاجی میر پیهمت
په ظالم و مړ اوس نو موږ سوو آزاد
پا ئمال ظالم دی موږ بی لو لکا لښکر

پښتانه ټول سول یو سوس او یو بیت
له جور و ظلمه د ظالم ارمنی
بل بادرخان و د بادرو لمسی
یوسف را ټول کړل له د سیوری هوتک
گلخان بابړ د بل و نور بړیج خان
کاړی ځوانانو د لښکر و کومک
ټول سره یو سول په کړی مر گرگین خان
پښتنو بو پر گرجیانو نا ورین
قوم کا خلاص له ظلم و جور زغار
قوم ی ټول کا ورتی کړ نصیحت
خالق د ی نکا پښتون قوم برباد
نا یی په وسا تو خانون له شر

ketabton.com - The Digital Library



| | |
|---|---|
| صفهان دک ولښکرو د شاه | سبا به راسي پر رګونو سپاه |
| نه به پښتون پرېږدي پر مخ د جهان | ورک به کا نوم ننګه ښان د افغان |
| دښمن قوی دی راسي کې اتفاق | ځان مو چیتو کي لیري کاندي نفاق |
| یقندهار کښې ی راټولکړل خانان | ښتوله د قوم اختیار دار مشران |
| هر قوم ورکړله ځوانان قوربانی | قول و ښتلي ټنګیالي جنګیالي |
| ښل زره بچ سول پېنځ کي د ښار | ګرده ولاړ و د میرخان ګفتار |
| میرخان انصاف کاو سپین ږیری مشر | قوم ی وند ګډ زوی او کشر |
